UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**يوناما د ټاکنو د خپلواک کميسيون د پريکړې هرکلی کوي**

**کابل، د ۲۰۱۱ د اګست ۲۳ نېټه:** د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ښاغلی ستفان دی ميستورا د ولسی جرګې د غړيتوب په اړه د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسيون د هغه پريکړی څخه چې د آګست د مياشتی په ۲۱ مه نيټه يی وکړه هرکلی کوی. د دې پريکړې په ترسره کولو سره يوې بنستيزې اوږدې معضلې ته د پای ټکی کيښود.

ستفان دی ميستورا د هغو کسانو هڅې چې غواړي د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د حل يوه لار پيدا کړي، په ځانګړی ډول د ولسمشر کرزی هغه پريکړه چې وروستۍ پريکړه يې د ټاکنو د خپلواک کميسيون ته پرېښې، څو دغه پايلې نهايي کړي، ستاينه کوي.

ريښتني کار بايد اوس پيل شي. د افغانستان خلک د پارلمان، حکومت او قضايي قوی څخه تمه لري چې د ورتيا د روښانه تعريف شويو سيمو په دننه او د افغانستان د اساسي قانون او نورو اړوندو قوانينو په مطابقت کې عمل وکړي څو خپل هيواد ته سوله، پرمختګ او سوکالي راولي.

يوناما د افغانستان د خلکو او د هغوي د ديموکراتيکو نهادونو د ملاتړ په موخه په بشپړه توګه ژمنه ده.